آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۶/۰۲

# تنور تود دی، خپله ډوډۍ پخوه

## (ديموکراسي او د بيان آزادي)

کله چې په افغانستان کې د توپک شپیلی سُر شوه او د بهرنیانو د نا سمي نسخي له مخي زموږ د ناروغي ټولني له پاره د ديموکراسی ا و د بیان د آزادی په نامه نسخه ولیکل شوه، نو په ټولنه کې د نظم پر ځای بی نظمي حاکمه شوه او ديموکراسی او د بیان د آزادی د مفاهیمو د نه پوهیدني یا سؤ استعمال سره د دیموکراسی او د بیان د آزادۍ په نامه خپلسري، توهین، ښکنځل او د وطن او ملي ګټو پر ضد دریدل پیل شول.

ځینو د دیموکراسی او د بیان د آزادي له مفاهیمو نه په استفادئ سره داسي اعمال پیل کړل چې له هیڅ ډول قانون او نرخ سره برابر نه وو. څه يي چې په سر کي و، هغه يي و ویل او څه يي چې غوښتل تر سره يي کړل او دا حالت اوس هم داسي دوام لري چې زموږ په ټولنه کي يي د ديموکراسی او د بیان د ازادۍ په نامه لويه غميزه روانه کړې ده چې همدا اوس په خپل ټول قوت سره روانه ده.

د بیان د آزادۍ په باب، د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیي په نولسمه ماده کي داسي راغلي دي:

«هر انسان د خپل نړۍ لید او مفکوري د څرګندولو آزادي لري. دا د هر چا حق دی چې خپل نړۍ لید او ګروهه (عقیده) پرته له کومي ویرې او خنده په ډاګه څرګنده کړي او په دې اړه د معلوماتو د لټولو، را ټولولو او خپرولو په کار کي له ټولو ممکنو وسیلو نه په آزاده توګه استفاده وکړي.»

د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیي د نولسمي مادي له مخي هر څوک حق لري چې خپل فکر، عقیده او نړۍ لید په آزادانه ډول بیان کړي. په داسي ځای او ټولنه کي چې هر څوک کولای شي خپل فکر او عقیده پرته له ډار نه نورو ته ورسوي، دا د بشریت له سترو ارمانونو څخه ګڼل کیږي. د بیان آزادي د دیموکراتیکو ټولنوستره ځانګړنه ده او د دي ځانګړني نقض یا تر پښو لاندي کول، په نیغه توګه د بشري حقونو د نورو موازینو تر پښو لاندي کول او له منځه وړل دي.

په آزادو او دیموکراتیکو ټولنو کي د بیان د آزادۍ پر حدودو او سرحدونو باندي بحث، تر ټولو جنجالي او ستونزمن بحث دی. په هغو ټولنو کي چې وګړي يي د دیموکراسی، د بیان د آزادۍ په مانا سم نه پوهیږي، هلته له دې دوو کلمو(دیموکراسي، د بیان آزادي) نه په ناسم تعبیر سره نوري ستونزې را منځ ته کیږي، په تیره بیا په کومو ټولنو کي چې د سواد، زدکړو او پوهي کچه ټیټه وي، يو شمیر سیاسي استفاده جو افراد د دیموکراسي او د بیان آزادي له مفاهیمو نه سؤ استفاده کوي او نا لوستي کسان داسي پوهوي چې دیموکراسي دا مانا رسوي چې هر څه دې زړه غواړي وې کوه او د بیان آزادي هم دا مانا لري چې څه دي زړه کي ګرځي که ښه وي که بد کولای شې وې وایې، خو دا نه ورته وايي چې هر څه کولای شې، هر څه ویلای شې، مګر د قانون په چوکاټ کي ، هر څه کولای شې، هر څه ویلای شې، مګر په هغه صورت کي چې ضرر يي ټولني ته او نورو خلکو ته و نه رسیږي او عامه نظم اخلال نه کړي.

دا څه باندي شپاړس کاله کیږي چې زموږ په هیواد کي له يادو دوو مفاهیمو(دیموکراسي، د بیان آزادي) نه په سؤ استفادئ سره، ډیر خلک په ناسمو لارو روان شوي او غولول شوي دي. عجیبه خو لا ده چې اوس د دیموکراسی او بیان د آزدۍ له پاره هغه څوک چیغي وهي، ستوني شکوي او سؤ استفاده ور نه کوي چې څو کاله وړاندي له عسکري بوټو سره وسله په لاس د دیموکراسي او د بیان د آزادۍ پر ستونو باندي ولاړ و او دواړو ته يي د کفري پدیدي نوم ورکاوه.

د توپک د شپیلی له سُر کیدو او واکمنیدو نه را په دې خوا په عیني ډول لیدل شوي دي چې ځیني سیاسي اشخاص، ټوپکیان او زورواکي ډلي د همدي بیان د آزادۍ په دایره کي ځان ته د هر څه د ویلو حق ور کوي، خو د بیان د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

آزادۍ د رښتیاني مفهوم له مخې که د دوی کوم مشر ته یا د دوی د ډلې کوم منسوب شخص ته دې له شته حقایقو او اسناد سره، سره یوه خبره هم وکړه، بیا عکس العمل ښیي او د مرګ تر بریده خلک تهدیدوي.

له طالبانو نه په را وروسته واکدارۍ کې د دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ په دایره کې د«تنور تود دی، خپله ډوډۍ پخوه» د پالیسی له مخې د هر چا، هرې روا او ناروا ډلې ، تنظیم یا ګوند، هر ډول چې زړه وشو ځانته یې چاپې، غربیزې او انځوریزې خپروني پیل کړې او هر څه یې چې زړه و، هغه یې خپرول او اوس هم دا پروسه ښه په خرپ کې روانه ده. وطن، ملي ګټې، د خلکو فکر، د ټولنې پرمختګ، د نوي نسل روزل او نور ملي مسایل هیڅ مطرح نه و او نه مطرح دي، یوازې خپلې شخصي او ګروپي ګټو ته یې ترجیح ورکول دي او بس.

په ۲۰۱۶ کال کې بي بي سي (bbc) یو را پور خپور کړ چې په هغه کې یې په افغانستان کې د بیلابیلو رسنیو شمیر ښودلی و. په یاد ریپوټ کې دا شمیرې داسې ښودل شوې وې:«

ــ اوس په افغانستان کې یوزرو اوه سوه (۱۷۰۰) شا و خوا کې ورځپاڼې، اونیزې او میاشتنۍ شتون لري،

ــ په ټول هیواد کې یوسلو پنځوس (۱۵۰) راډیو ګانې فعاله دي،

ــ شپیته تلویزیوني کانالونه خپروني کوي،

ــ یوسلو اتیا (۱۸۰) چاپخونې فعاله دي.»

د میډیا د بیلابیلو ډولونو په دې ګڼه ګونه کې چې بیا د بیان آزادي او دیموکراسي په مفاهیمو یا څوک پوه نه شي چې سم یې وکاروي او یا ځینې کسان له همدې مفاهیمو نه په سؤ استفادې سره خپلو سیاسي موخو ته د رسیدو له پاره خلک وغولوي، نو د خلکو د افکارو او ټولنې حال به څه ډول وي؟

دې ته مو پام وي چې هر مرض ته خپل ډاکتر او خپل دارو په کار دي، ځینې ټولنې او خلک شته چې په دیموکراسۍ او د بیان په آزدۍ نه اداره کیږي. دیموکراسي او د بیان آزادي د ډوو ډیرو قیمتي مرغلرو حیثیت لري، خو دا قیمتي مرغلرې هغه چا ته په لاس ورکړئ چې په قیمت ، په قدر او په کارولو یې پوه شي، که ماشوم ته همدا قیمتي مرغلرې او یو څو عادي کاڼي په لاس ور کړئ، هغه په ټولو یو شان لوبې کوي.

یو په وطن او خلکو باندې زړه سواندي او دیموکراسۍ او د بیان آزادۍ باندې پوه فرهنګي، له دیموکراسۍ او د بیان له آزادۍ نه د سؤ استفادې په حال کې، زموږ په ټولنه کې د بیان د آزادۍ لاسته راوړنې داسې په ښنه کړې دي:

«په افغانستان کې، د بیان آزادۍ، ځېنې نورې لاسته راوړنې :
ــ د پردیو هیوادونو، په سپارښتنه د افغانستان د نظام سپکاوی او بې اعتباره کول؛
- د جهاد له نامه نه، د ناوړې ګټې په مرسته، د زیاتو بشري او موکراتیکو ارزښتونو، له منځه وړل؛
- د ولس مشر، او نورو دولتي ارګانو، قضا او څارنوالی، مشرانو ته ښکنځلې او د هغو بې اعتباره کول؛
ـ د دولتي اسرارو افشا کول؛ (ولس مشر یا وزیر لا سند لاسلیک کړی نه وي، بیا دده په خپرونه کې خپور وي .)
- د خبرونو او شننو په نامه د ټولو نظامي پټو او برالا عملیاتو، څرګندول؛
- ملي څېرو او د پام وړ شخصیتونو بدنامه کول او هغو پسې د ډنډورو غږول؛
- د پردي فرهنګ، دود دستور او کړو وړو دودول؛
- د هیواد په ملي داخلي او بهرنې سیاست ملنډې وآن د هغو د پټو ټکو څرګندول؛
- د هیواد پر اساسي او نورو نافذو قوانینو ملنډې وهل؛
- په هیواد کې د میشتو قامونو ترمنځ د تفرقې اور ته لمن وهل؛
او ...»

اوسنۍ پیښې دا ښیي چې د همدې دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ تر نامه او پردې لاندې د «پنځم ستون» رول لوبول کیږي او د خپل وطن او خپلو خلکو د ګټو پر ځای، د پردیو ګټو ته کار کیږي. څو وروستیو ورځو کې لیدل کیږي چې د دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ په دایره کې د دولت پر ضد مظاهرې شوې دي د مظاهرو په ترڅ کې تاوتریخوالی رامنځ ته شوی، مظاهره چیانو غوښتل په دولتي ودانیو او له هغې ډلې پر ارګ یرغل وکړي، پولیسو ډزې ور باندې کړي دي، څو تنه وژل شوي او څو تنه ټپیان دي. که په پیښو کې ښکیلې دواړه غاړې (مظاهره چیان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

او پولیس) د دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ په ریښتیني مانا پوهیدی، نو داسې نا وړه پېښې به رامنځ ته شوې وې، البته چې نه.

زموږ ټولنه اوس له هره اړخه د ې برید ته رسیدلې لکه جړ شوی تار یا جړ شوې کلاوه، چې د سر پیدا کول او د حل لاره سنجول یې اوس له موږ نه څه چې له ټولې نړۍ نه ورکه ده. نو په دغسې یوه ټولنه کې چې انارشي تر دې بریده وي چې د ټوپک د زور په دایره کې او د مرمۍ د ډار په ولکه کې هر څه سر چپه وي او د دیموکراسي مانا دې په ګډوډۍ تعبیر شي او د بیان آزادي دې د توهین او ښکنځلو په مانا وکارول شي، نو د هغې ټولنې او هغو خلکو حال به داسې وي لکه اوس چې افغانستان په کې را ګیر دی، پایله به یې داسې وي لکه دا په کابل کې د څو ورستیو ورځو چغې سورې، مظاهرې، وینې تویول ، مړي او جنازې.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ